

# نجم الرحمن « مواج »

## تاريخ نشر : 6 مارچ 2016 م

# مور

مورې زړه چې دې زما دمينې کوردئ
زما زړه کی هم داستا د مينې اوردئ

که ليمه مې هم تريپنولاندې دې فرش کړم
لاهم پاتې دې پرما دغرونوپوردئ

دې نړئ ته چې زه سرتر پايه ګورم
هرې خواته ستا د مينې زوږو شوردئ

شاوخواته مې داستا وړانګه خوره ده
که مې ښنګ کې ناسته خور اوياناست وروردئ

که داستا د پاکې مينې په راز پوه يم
پوه پرهرڅه يمه ستا د مينې زوردئ

پرعيسا د زماني به د چا پوروي؟
عيسي هم که پورورې دئ د موردئ

زه « مواج » داستا له مينې نه ممنون يم
له موسکا نه دې زما جهان سمسور دئ

***

نجم الرحمن « مواج »


بارګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org